AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۰۹/۱۶

# د اروابناد ګیلهمن وزیر دعا و مونږ ته

د جولای په لسمه د روانه کال ۲۰۲۴ د چهار شنبی ورځ چې تر یوه ورځي د مخه پوری اروابناد ګیله من وزیر د روغتون په بستر کې ډیر شدید تپی پروت وو،ما یو مات او ګوډ شعر لکه د نورو شاعرانواو ادیبانو په څیرد ده د روغتیا او سلامتیا د غوښتلو په پار لیکلی وو.
او په کې می د پاک رَب څخه ده ته، د سلامتیا دعا کړې وه ،او د هغې نه د مخه می چې هغه مهال اروابناد ګیله من وزیر په زندان کې بندی وو. ما یو لنډ مضمون د ده په اړوند لیکلی وو .چې د ۲۰۲۴ کال د همدې کال د اپریل په میاشته کې می مضمون په فیسبوک کې خپور کړ، نو همدغه مضمون او خپل شعر می په همدغه ورځ اته او نهه خپرندویه ټولنو ته ولیږه چې ټولو کې خپور هم شو.
څو شیبې می دمه وکړه ،او د چایو ګوټ می وکړ او د ګوټ سره سم می فیسبوک خلاص کړ
لکه دا ټوله نړۍ او دنیا چې په دي مرض اخته ده زه هم په همدي مرض ګرفتار یم.
چې د فیسبوک پر مطالبو می نظر ولګید و می لیدل چې د ګیله من وزیر د مرګ خبر خپور شوی ډیر پری غمجن شوم . لمړی خو زما هیڅ اعتبار او یقین را نه غی خو د ځانه سره می وویل: ورځه که ډیرو شریک کړی وي ، او هم با اعتباره دوستانو شریک کړی وي نو دا خبره به رښتیاوي. که نه غلطه ده کاته می چې ډیرو شریک کړی وو ،خو ما وویل :خدای تعالی دي غلطه ثابته کړي.هماغه ورځ تر ډیره پوری می د ده دا تصویر سترګو ته راته د ده په خوانۍ می هم ډیر زړه درد وکړ . او دا چې د ده څخه واړه بچیان پاتي شول پری نور هم خفه شوم.
خو څه وکړو چې د ظالم او بیرحمه قاتل د لاسه، ډیره د تعجب خبره ده چې، د پاکستان په پلازمینه کې دومره لوی سړی که څه هم د سن له لحاظه کوچنۍ وو خو د پوهی او درک له لحاظه لوی سړی وو او لویه هستي وه.
یاني بیرحمانه په رڼا ورځ په پلازمینه کې وژل کیږي ،چې زه نه پوهیږم چې دا د اسلام آباد امنیت دي پوځیانو قاتلانو صرف د خپل ځان له پاره راوستی او که د خلکو له پاره ؟
د پښتنو او افغانانو له پاره خو چور اسلام برباد ثابت شو.لنډه یې دا چې ټوله ورځ می د ده تصویر تر سترګو کیده خو ورته می دعا ګانې کولې اګر که مونږ له نژدې نه، سره نه و لیدلې خو ده سره زمونږ د افغانانو او د بری پشتونخواه د ځوانانو شور او اخلاص می چې ده ته لیده نو زما هم مینه ورسره وه . د خلکو مینه او خلاص ته می چې کاته نو ما ویل : ګیله منه آشنا ته مړ نه یې ژوندی یې ،خو دا په حقیقت کې مړه مونږه یو،که د زړه په سترګو خپل حال ته وګورو او ځیر شو. زه فکر کوم د زړه سره ګیله منه! چې ته مونږ ته لاسونه لپه کړه، او لاسونه جګ کړه او دعاووي وکړه.
)چې ای خدایه! ته په خپل فضل او کرم دا ژوندي متحرکې جنازې چې مونږه یو او زمونږ رهبران دي دا ټول وبخښې او د پنجابیانو د پوځ دا په آخور کې لوی شوي جنرالان او کر نیلان او دا د رنډۍ خانو متولدین د انسانیت لارې ته سم کړې ،او دوی ته په ځمکه باندی د انسانیت د اوسیدو طریقه وښایي. او دا حرامیان سمې لارې ته راولي او دوي ته هدایت وکړې ،او دوی ته د قناعت د توفیق نعمت نصیب کړې چې نور د ډالرو د ګټلو له پاره د پښتنو په سر سودا ونه کړي . ځکه د رسوایي او بی آبرویي تر سرحده دوی ډالرو پسي منډې ووهلي او تر اوسه یې لا وهی ،او د ډالرو ګټلو له پاره ځانونه دومره رسوا نه کړي، او ونه شرموي او دوی ته توفیق د قناعت د دي له پاره هم ور په برخه کړي . چې نور د پښتنو په سر سودا باندی دوی ډالری و نه ګټي ،او نوره دنیا هم و نه غولوي چې پیسې تری و شکوي .دوی ته دي خیښتن تعالی د قناعت نعمت ور حاصل کړي ،او ګل خانانو ته یې سیاسي شعور او د معرفت په رڼا کې ژوند نصیب کړې او د بیداری له نعمته یې برخورداره کړې او پولیسو ته یې د مسولیت احساس ورکړې او یو سیاسي درک او زړه سوی په خلکو ورنصیب کړي ، او پوځ او پوځیان او جنرالانو ته یې حیا ورکړي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

، او د اخلاقو له نعمته يې برخورداره کړې، اود دوي لاس پوڅو ته هم حيا په نصيب کړې،او افغانان هم د دوی له شره خلاص کړې)،د يوسف جان په دي څو ټکو چې د يوې مرکې په پای کې د يو شاعر سره وويلي ، او د ده دزړه نه راوتلي څو کرخي د زړه وينا باندی چې د درد خبری دي مضمون لنډوم چې وايي : ګيله من هم مونږ نه ګيله من لاړ. ګيله من د دي قافلې يو ښکلی سردار وو ،چې چا مړ کړی مونږ وايو چې بد يې کړي ،او ظلم يې کړی .د يو ډير ښکلی غږ. په مری يې لاس کېښود ،خو بيا هم ګيله منه! ته مړ نه يې ستا ټکي به هميشه ژوندي وي او دغه ټکي به د انقلاب سر نامې وي د زړونو نه به و نه ووځې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ